**امارت اسلامی افغانستان**

**وزارت ارشاد، حج و اوقاف**

# د روژې د مبارکې میاشتې احکامو او فضائل

**د رمضان میاشتې د روژې فرضیت**

**د رمضان میاشتې روژه، د هجرت د دویم کال په شعبان میاشت کې فرض شوې ده. الله تعالی مؤمنانو ته په خطاب کې فرمايي:**

**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ البقرة: ۱۸۳**

**ژباړه: اې مؤمنانو! پر تاسو باندې روژه داسې فرض شوې ده، لکه له تاسو نه پر مخکنيو چې فرض شوې وه، د دې لپاره چې پرهېزګاره شئ.**

**د رمضان د روژې د فرضيت د څنګ حکمت:**

**د رمضان روژه په واقعيت کې، د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د بعثت له شاوخوا څوارلسو کاله وروسته فرض شوې ده. له هغه مهال راهيسې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم يوازې (۹) ځله روژه نيولې ده، چې وروسته بيا يې له دې فاني نړۍ څخه د ابديت کور په لور رخصت واخيست.**

**علامه ابو الحسن ندوي رحمه الله د روژې د فرضيت د ځنډوالي د علت په هکله وايي:**

**د محمد صلی الله علیه وسلم د بعثت منځنی دور پورې، د روژې د فرضيت د ځنډوالي حکمت او فلسفه، د دې انګېرنې مخنيوی و، چې ګڼې روژه د يوې اجباري چارې په توګه، د مکې مکرمې د چاپېريال او پکې د مسلمانانو له بد وضعيت څخه سرچينه اخلي او دا چې روژه يوازې تر بېوزلو، اړمنو او غمجنو خلکو پورې تړاو لري ، شتمن، د جايدادونو او باغونو څښتنان، هغې ته اړتيا نه لري. ( الأركان الأربعة: ۲۰۶)**

**اسلام کې د روژې ارزښت**

**روژه، په اسلام کې له ډېر لوړ مقام څخه برخمنه ده. روژه، د اسلام له پنځګونو ارکانو څخه يو مهم رکن دی او د انسان لپاره د پرهېزګارۍ چاپېريال برابروي، هغه چې ټول نېک او ښه خويونه رانغاړي، د انسان په وړاندې، د الله تعالی د رحمت او برکت دروازې پرانيزي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي: وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ الأعراف: ۹۶**

**ژباړه: او که چيرې د دې کليو( ښارونو) خلکو ايمان راوړی وای او تقوا يې کړې وای، نو پر دوی به مو د اسمان او ځمکې د برکتونو( دروازې) پرانيستلې وې.**

**الله تعالی د روژې د ارزښت او مقام په هکله، په يوه قدسي حديث کې فرمايي: { كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إلّا الصِّيامَ، فَإِنَّهُ لِي وَ أَنَا أَجْزِي بِه. وَالصِّيامُ جُنَّةٌ، فَإِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُم فَلَا يرْفُثْ وَ لا يَصْخَب، فَإِنْ سابَّهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ، فَلْيَقُلْ: إِنِّي صائِمٌ. وَالَّذی نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيدِه، لَخلوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيبُ عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ. لِلصّائِمِ فَرْحَتانِ يفْرَحُهُما: إذا أَفْطَرَ فَرِحَ بِفِطْرِه، وَإذا لَقِی رَبَّهُ فَرِحَ بِصَوْمِه}. ( صحيح البخاري، حديث ( ۱۹۰۴)**

**ژباړه: د آدم د اولادې ټول اعمال هغوی لره دي، پرته له روژې، چې هغه زما لپاره ده او زه يې بدل ورکوم. روژه( د دوزخ او ګناه په وړاندې) سپر ده، نو که چيرې له تاسې د يوه روژه وه، نو ناروا او په لوړ غږ خبرې دې نه کوي، که چيرې چا ورته سپکې سپورې وويلې يا جګړه ورسره وکړي، نو( ورته) ودې وايي: زما روژه ده. قسم په هغه ذات، چې د محمد صلی الله علیه وسلم ژوند د هغه په لاس کې دی، د الله**

په نزد د روژه دار د خولې بوی د مشک له بوی څخه زیات خوږ دی. روژه دار  لره دوه خوښۍ دي: کله چې روژه ماته کړي، په خپل روژه ماتي خوشاله شي او کله چې له خپل رب سره مخ شي، په خپلې روژې به د ثوابونو تر لاسه کولوپه وجه خوشاله شي.

همداراز رسول اکرمﷺ فرمايي: { إِنَّ فِي الْجَنَّةِ بَابًا يُقَالُ لَهُ: الرَّيَّانُ، يَدْخُلُ مِنْهُ الصَّائِمُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، لاَ يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ، يُقَالُ: أَيْنَ الصَّائِمُونَ، فَيَقُومُونَ، لاَ يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ، فَإِذَا دَخَلُوا أُغْلِقَ فَلَمْ يَدْخُلْ مِنْهُ أَحَدٌ}. (متفق علیه)

ژباړه: په جنت کې یوه دروازه ده، چې( رَيَّان) ورته ویل کیږي، د قیامت په ورځ به ورڅخه روژتیان( جنت ته) ننوځي، پرته له هغوی بل هېڅوک ورنه نه داخلیږي. وبه ویل شـــي: روژتیان چېرته دي؟ روژتیان به ولاړ شـــي، له هغوی نه پرته بل هېڅ کس( له دې دروازې) نه ننوځي، کله چې هغوی داخل شي، دروازه وتړل شي او بل هېڅوک ورنه نه شي ننوتلای.

په بل حدیث کې فرمايي: { مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ} . ( متفق علیه)

ژباړه: چا چې د رمضان روژه د ایمان له مخې او د ثواب په تمه ونیوله، تېر (واړه) ګناهونه به يې ورته وبښل شي.

عبد الله بن عمرب څخه روايت دی، وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم  فرمایلي: { بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَ إِقَامِ الصَّلاَةِ ، وَ إِيتَاءِ الزَّكَاةِ ، وَ حَجِّ الْبَيْتِ، وَ صَوْمِ رَمَضَانَ }. (متفق علیه)

اسلام پر پنځو( ستنو) ولاړ دی: د دې ګواهۍ ورکول چې پرته له الله بل هېڅ (په حقه) معبود نشته او محمد(صلی الله علیه وسلم  ) د هغه استازی دی، د لمنځونو ترسره کول، زکات ورکول، حج ادا کول او د رمضان میاشتې روژه نیول.

په همدې اساس، د رمضان روژه د یوې ټولنې عرف، کلتور، دود او عنعنات نه، بلکې هغه عبادت دی، چې الله تعالی پر اسلامي امت فرض کړی دی.

د روژې شرطونه

روژه، درې ډوله شرطونه لري:

۱- د فرضیت شرطونه،

۲- د نیولو شرطونه،

۳- د صحت شرطونه.

لومړی: د روژې د فرضیت شرطونه:

اسلام: ځکه د الهي شریعت پر احکامو د مکلّفیت لپاره اسلام شرط دی.

عقل: ځکه د عقل په شتون کې، مکلّف انسان ته، الهي خطاب متوجه کیږي.

بلوغ: ځکه نابالغ انسان مکلف ندی انسان په بلوغ سره مکلّف کیږي.

په( البحر الرائق ۲/ ۲٦۷، طبع دار المعرفة) کې راغلي:

« وَ شَرَائِطُهُ [أي: شرائط الصوم] ثَلاَثَةٌ: شَرْطُ وُجُوبٍ، وَهُوَ الإِسْلاَمُ، وَالْبُلُوغُ، وَالْعَقْلُ».

همدا راز په( فتح القدير ۲ / ۳۰۲، طبع دار الفكر) کې راغلي:

« وَ شَرْطُ وُجُوبه: الإِسْلام، وَالْبُلُوغُ، وَالْعَقْلُ».

په( مراقي الفلاح ۱/ ۲۳۸، طبع المكتبة العصرية) کې بیا راغلي دي:

«(وَ هُوَ) أي صَـوْمُ رَمَضَـان( فَرْض) عَيْن(أَدَاءً وَ قَضَـاءً عَلَى مَنْ اجْتَمَعَ فيه ثلاثة أشـياء) هِيَ شُرُوطٌ لافْتِرَاضته وَالْخطَاب به، وَ تُسَمَّى شُرُوطُ وُجُوبٍ، أَحَدُهَا: (الإِسْلَام) لأَنَّهُ شَرْطٌ لِلْخِطَابِ بِفُرُوعِ الشَّرِيعَةِ(وَ) ثَانِيهَا: (الْعَقْلُ) إِذْ لَاخِطَابَ بِدُونِهِ(وَ) ثَالِثُهَا: (الْبُلُوغُ) إِذْ لَا تَكْلِيفَ إِلَّا بِهِ».

دويم: د روژې د نیولو شرطونه:

اقامت: د رمضان د میاشتې روژه نیول، پر مقیم (چې مسافر نه وي) فرض ده.

روغتیا: د رمضان روژه نیول، پر روغ او صحتمن کس فرض ده.

په (فتح القدير٢/ ٣٠٢) کې راغلي:
« وَ شَرْطُ وُجُوبِ أَدَائِهِ[ أي الصوم]: الصِّحَّةُ، وَالْإِقَامَةُ».
درېيم: د روژې د صحت شرطونه:
له حيض او نفاس څخه( د ښځې) پاکوالی.
د شپې لخوا د روژې نيولو نيت کول.
په( فتح القدير٢/ ٣٠٢) کې راغلي:
« وَ شَرْطُ صِحَّتِهِ[ أي الصوم]: الطَّهَارَةُ عَنْ الْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ، وَالنِّيَّةُ».
په( البحر الرائق ٢/ ٢٧٩) کې راغلي:
« وَ اشْتُرِطَتْ النِّيَّةُ؛ لِتَمْيِيزِ الْعِبَادَةِ عن الْعَادَةِ».
د زړو، ناروغانو، مسافرو او ښځو اړوند مسائل
أ- د زړو نارينه وو او زړو ښځو مسائل
د اسـلام سـپېڅلي دين هغو زړو کسـانو ته، چې د بوډاتوب له امله، د روژې نيولو بشپړ توان نه لري او نه ی په آينده کې د توان پيدا کيدو اميد وي ، د افطار( د روژې نه نيولو) اجازه ورکړې او په ځای يې فديه ورباندې لازمه کړې ده، چې د هرې خوړل شوې روژې په بدل کې، يو مسکين ته پاو کم دوه کيلو غنم يا د هغو دوه برابره ، وربشي خورما او مميز ورکړي او يا هم د دغو اجناسو بيه ورکړل شي.
الله تعالی فرمايي: وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ البقرة: ١٨٤
ژباړه : يعنی په هغو کسانو چې د روژ ې نيولو توان نلري يوه مسکين ته فديه ورکول دي
امام جصاص/په خپل کتاب( أحكام القرآن ١/ ٢١٨، طبع دار الإحياء للتراث العربي) کې ليکلي:
« قال أبو حنيفة و أبو يوسف و محمد و زفر: الشَّيخُ الكبيرُ الذي لا يُطيق الصِّيامَ، يُفطِر و يُطعِم عنه كُلَّ يوم نصفَ صاعٍ من حِنطةٍ، و لا شيء عليه غير ذلك».يعنی د غټ عمر سپين گيری چې د روژ ې نيولو توان نلري روژه دي نه نيسي او دهرې روژې په بدل کې دي پاو کم دوه کيلو غنم مسکين ته ورکړي
په( رد المحتار ٢/ ٧٣ طبع دار الفكر) کې راغلي:
« قوله: ( نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ) أَيْ: أَوْ مِنْ دَقِيقِهِ أَوْ سَوِيقِهِ، أَوْ صَاعَ تَمْرٍ أَوْ زَبِيبٍ أَوْ شَعِيرٍ أَوْ قِيمَتِهِ، وَ هِيَ أَفْضَلُ عِنْدَنَا؛ لِإِسْرَاعِهَا بِسَدِّ حَاجَةِ الْفَقِيرِ». يعني دهرې روژې په بدل کې دي پاو کم دوه کيلو غنم يا اوړه يا ددې دوه برابره خورما ،مميز ، وربشي او يا يې قيمت ورکړي او قيمت يې ورکول بهتر دي ځکه دا د مسکين مشکل زر حلوي .
ب- د ناروغانو مسائل
الله تعالی ناروغه کس ته اجازه ورکړې، چې روژه ونه نيسـي. خو دا په هغه صـورت کې، چې ډاکټر ورته ووايي، چې بې له افطار نه يې رغېدا ناشـونې ده يا دا چې د ژوند د له لاسـه ورکولو يا د ناروغۍ د زياتېدلو وېره شتون ولري. دې حالت کې کولای شي روژه ماته کړي او له رغېدا وروسته، له کفارې پرته، د دغو ورځو قضايي راوړي. خو که چيرې له ناروغۍ سره - سره روژه ونيسي، روژه يې صحيح ده.
الله تعالی فرمايي: فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ البقرة: ١٨٤
ژباړه: نو که له تاسې نه څوك ناروغ او يا مسافر وي، نو بيا( دې) له نورو ورځو شمېر( پوره) کړي.
په( الهداية ١/ ٢٠٣، طبع امير حمزه كتب خانه) کې راغلي:
« وَ مَنْ كَانَ مَرِيضًا فِي رَمَضَانَ فَخَافَ، إنْ صَامَ، ازْدَادَ مَرَضُهُ، أَفْطَرَ وَ قَضَى».يعنی که يو کس مريض وي او د روژې په نيولو ويرېږي چې مرض به يې زيات شي نو روژه دې نه نيسي او په عوض دې قضا راوړي

خو هغه ناروغه، چې د رغېدا هيله يې نه وي، يعنې مرگونې ناروغي ولري، روژه دې نه نيسـي او د رمضـان د هرې ورځې د روژې په بدل کې به مسکين ته خواړه ورکوي او پرې د روژو قضايي راوړل لازم نه دي.

ج- د مسافرو مسائل

الله تعالی مسـافر ته هم اجازه ورکړې، چې روژه ونه نيسـي؛ څو له سـختی سره مخ نه شي. خو که روژه ونيسي، روژه يې سهي او غوره ده. الله تعالی فرمايي: فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ البقرة: ١٨٤

ژباړه: نو که له تاسي نه څوك ناروغ او يا مسافر وي، نو بيا( دې) څله نورو ورځو شمېر( پوره) کړي.

امام جصاص په( أحكام القرآن ١/ ٢٦٥) کې وايي:

« و قد ثبَت عن النَّبيِّ (صلى الله عليه وسلم )بالخبرِ المستَفيضِ المُوجبِ للعلم بأنه صامَ في السَّفر، و ثبَت عنه - أيضًا- إباحةُ الصَّوم في السَّـفر، منه حديث هشـام بن عروة عن أبيه عن عائشـة أنَّ حمزة بن عمرو الأَسـلمي قال لرسـول الله صلى الله عليه وسلم : أصومُ في السَّـفر؟ فقال(صلى الله عليه وسـلم ): { إنْ شِـئْتَ فَصُـمْ وَ إِنْ شِـئْتَ فَأَفْطِرْ}».يعني له رسول الله (صلي الله عليه وسلم ) څخه د معتبر حديث شـريف په ذريعه په سـفر کې روژه نيول او نه نيول دواړه ثابت دي لکه چې رسول الله مبارک د حضرت حمزة بن عمرو الأسلمي په سفر کې د روژی نيولو دسوال په ځواب کې د نيولو او نه نيولو خوښه ورکړه.

په( بدائع الصنائع ١/ ٢٠٣، طبع دار الكتاب العربي) کې راغلي:

« دڕرُويَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه وسلم صَامَ في السَّفر، وَرُويَ أَنَّهُ أَفْطَرَ، وكذا رُويَ عن الصَّـــحَابَة أَنَّهُمْ صَامُوا في السَّـــفَر، وَ رُويَ أَنَّهُمْ أَفْطَرُوا حَتَّى رُويَ أَنَّ عَليًّارضـي الله عنه أَهَلَّ هلاَلُ رَمَضَـانَ وَ هُو يَسـيرُ إلَى( نَهْرَوَانَ) فَأَصْـبَحَ صَـائمًا؛ وَ لأَنَّ اللهَ تَعَالَى جَعَلَ الْمَرَضَ وَالسَّـفَرَ من الأَعْذَارِ الْمُرَخِّصَةِ للإِفْطَارِ تَيْسيرًا وَ تَخْفيفًا عَلَى أَرْبَابهَا وَ تَوْسيعًا عَلَيهم، قال اللهُ تَعَالَى: ﴿يُرِيدُ اللهُ بِكُمْ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمْ الْعُسْرَ﴾». يعني له رسول الله (صلي الله عليه وسلم ) څخه يو روايت د نيولو او بل روايت د نه نيولو راغلی ده همدارنكه له صحابه كرامو څخه هم آن تر دې چې حضرت علی رضی الله عنه نهروان ته په سفر روان و چې د روژې مياشت ښكاره شوه او په صبا يې روژه نيولې وه .څکه الله تعالی د اسـانې له وجې مرض او سـفر له اعذار مبيحه و څخه گرځولي او الله تعالی په ايات شـريف کې هم پدې صـراحت کړی ده

په( الهداية ١/ ٢٠٣) کې راغلي:

« وَ إِن كَانَ مُسَافرًا لَا يَسْتَضرُّ بالصَّوْم، فَصَوْمُهُ أَفْضَل، وَ إِن أَفْطَرَ جَازَ».يعنی که د سفر په حالت کې روژه نيول مسافر ته ضرر نه رسوي نو روژه نيول يې بهتر دي او که يې ونه ونيوله ورته روا ده.

د- حملدارو او شيدې ورکوونکو ښځو مسائل!

حملداره او شيدې ورکوونکې ښځه، د روژې له پلوه، څلور حالتونه لري:

١- که چيرې روژه نيول، نه دې ښځې او نه هم يې بچي ته کوم زيان رساوه، پرې لازمه ده چې روژه ونيسي دغه حالت کې د پرېښودلو اجازه نه لري.

٢- که چيرې روژه نيول، يوازې دېته زيان رساوه، نو بيا روژه ماتولای شي خو قضايي يې وربانديې لازمه ده.

٣- که چيرې روژه نيول، يوازې بچي ته زيان رساوه، بيا هم روژه ماتولای شي او هم يوازې قضايي به يې راوړي.

۴- که چيرې روژه نيول، دې او بچي دواړو ته زيان رساوه، روژه ماتولای شي او هم صرف قضايي يې پرې لازمه ده.نه کفاره .

د امام جصاص (أحكام القرآن ١/ ٢٢٣) کتاب کې راغلي دي:

« قال أبو حنيفة و أبو يوسـف و محمد وزفر والثَّوريُّ والحسـن بن حيٍّ: و إذا خافَتا[ أي: الحامل والمرضـع] على ولدَيْهِما أو على أنفسـهما، فإنهما تُفطران و تَقضـيان و لا كفَّارة عليهما».يعنی که حملداره او شـيدې ورکوونکې ښځه په خپل بچي او ياځان باندي ويريږي نو روژه دې نه نيسي او قضا دي راوړي او کفاره وربانديې نشته

امام محمد شيباني/ په( المبسوط ۲/ ۲۴۵، إدارة القـــرآن والعلوم الإسلامية طبع كراچى) كې داسې ليكلي:

« قلتُ: أرأيتَ المرأةَ الحاملَ والـــمُرضِعَ التي تخاف على الصَّبيِّ أو الحامل تخاف على نفسِها، قال: يُفطِران و يقضِيان يومًا مكانَ كُلِّ يوم، و لا كفَّارة عليهما». يعنى د هغه حملداره او شـيدې وركوونكې ښځې په هكله چې په خپل بچي او ياځان باندې ويريږي پوښـتنه وشوه نو يې وفرمايل چې روژه دې نه نيسي او د هرې ورځې په عوض دې قضا راوړي او پر دوی كفاره نشته.

همدارنگه په( النّتف في الفتاوى ۱/ ۱۴۷، مؤسسة طبع دار الرسالة) كې راغلي:

« والثَّالث: الحاملُ اذا خافت على حَمْلِها، تُفطِر. والرَّابع: الـــمُرضِـعةُ إذا خافت على ولدِها و لا تَقْدِر أن تَسْـتَرْضِـعَ لِولدِها ظئْرًا». يعنى حملداره او شـيدې وركوونكې ښځې چې په خپل حمل او بچي باندې ويريږي او هم ورته د مرضعې نيولو توان نلرى بيا ورته د روژ ې نه نيولو رخصت شته).

هـ- د مياشتنى عادت او نفاس لرونكو ښځو مسائل

هغه مېرمنې، چې مياشتنى عادت ورته پيښيږي، بايد روژه ونه نيسي او د رمضان له مياشتې وروسته قضايي يې راوړي .

په (الاختيار لتعليل المختار ۱/ ۳، طبع دار الكتب العلمية) كې راغلي دي:

« و هو[ أي: الحيض] يُسـقِطُ عن الحائضِ الصَّـلاةَ أصـلًا، و يُحرِّمُ عليها الصَّـومَ فتَقضيه؛ لقول عائشـة رضـى الله عنها : ( كُنَّ النِّساءُ على عهدِ رسـول الله(صـلى الله عليه وسـلم ) يقضِـين الصَّـومَ و لا يقضِـين الصَّـلاةَ)، ولِأنَّ الصَّلاةَ تَـــتَكَرَّر في كُلِّ شهرٍ و كُلِّ يومٍ فتَحْرَج في القضاء ، والصَّومُ في السَّنة مَرَّةً فلا حَرَج».

يعنى په روژه كې دحيض راتلل د حائضــى نه لمونځ بلكليه سـاقطوى او روژه نيول ورباندې حرام گرځي خو قضـائي به يې راگرځوي له وجې دې حديث د بى بى عائشـي رضـى الله عنها چې فرمايي ، دنبى عليه السـلام په زمانه كې به ښځو د روژې قضايي راگرځوله نه د لمنځونو او داځكه چې لمونځ تكراريږي په هره مياشـــت او هره ورځ كې نو په قضـــايي كې يې حرج ده او روژه په كال كي يو ځل راځي چې په قضا كي يې حرج نشته .

و- د نجونو او هلكانو د بلوغ عمر

اسـلام كې د مكلّفيت عمر، د بلوغ له مخې ټاكل شوى دى. په دې معنى، كله چې چا كې د بلوغ نښې( لكه: احتلام او حيض) رامنځته شـي، هغه د مكلّفيت عمر ته رسـېدلاى. خو د قدرتي نښو سربېره، فقهاوو د هلكانو او نجونو د بلوغ لپاره، د عمر معيار هم ټاكلى دى. نو كه چيرې انجلۍ يا هلک د بلوغ قدرتي نښـې ونه لري او ياد عمر ته ورسـيږي، بايد د يوه مكلّف كس په څېر، شـرعي وجايب ترسـره كړي؛ ځكـه دې عمر تـه پـه رســېدلو، بلوغ غالباً تحقق مومي. په همدې اســاس، حنفي مذهب كې، د نجونو او هلكانو د بلوغ عمر، د مفتى به قول له مخې، ( ۱۵ ) پنځلس كاله دى.

په( درر الحكام شرح مجلة الأحكام ۲/ ٦٣٣، طبع دار الكتب العلمية) كې راغلي:

« الاحْتِلَامُ كَمَا يَكُونُ لِلرِّجَالِ عَلَامَةٌ لِلْبُـلُوغِ، يَكُونُ لِلنِّسَاءِ كَذَلِكَ، لَكِنْ كَمَا يَخْتَصُّ الْإِحْبَالُ بِالرِّجَالِ يَخْتَصُّ الْحَيْضُ بِالْإِنَاثِ».يعني احتلام لكه څنگه چې د نارينه و لپاره علامه دبلوغ ده همدارنگه د ښـځينه و لپاره هم ده او لكه څنگه چې احبال تر نارينه و پوري اختصــاص لري حيض تر ښځينه و پوري تړاو لري .

په( الدر المختار ۵/ ۴۴۸، طبع دار الفكر) كې راغلي:

« بلوغُ الغلام بالاحتلام والإحبالِ والإنزالِ) والأصـلُ هو الإنزال( والجاريةِ بالاحتلام والحيض والحَبَل) و لم يذكر الإنزالَ صـريحًا؛ لأنه قَلَّما يُعلَم منها( فإنْ لم يُوجَد فيهما) شيء( فحَتَّى يَتِمَّ لِكُلٍّ منهما خمسَ عشرةَ سنةً، به يُفتى) لِقَصْرِ أعمارِ أهلِ زمانِنا».

په( درر الحكام شرح مجلة الأحكام ۲/ ۹۸۵) كې راغلي:

« مَنْ أدرَكَ مُنتهى سِنِّ البلوغ، أي مَنْ أتَمَّ خمسَ عشرةَ سنةً من عُمره و لم تَظْهَر عليه آثارُ البلوغ، يُعَدُّ بالغًا حُكْمًا، يعني إذا أكمَل الغلامُ أو البنتُ الخامسةَ عشرةَ، يَلْزَم الحكمُ بِكَونِهما بالغَيْن و لو لم يَظْهَر عليهما أَثَرٌ مِن آثار البلوغ( علي أفندي)؛ لأنَّ ظهورَ علامةِ البلوغ في

هذه السِّنِّ هو الغالب الشَّائع. فكما أنَّ مَنْ تظهَر عليه علامةُ البلوغ، يُعَدُّ بالغًا بمقتضى المادة( ٩٨٥)، كذلك يُعَدُّ بالغًا مَنْ أدرك منتهى سِنِّ البلوغ و لم تظهَر عليه علامةُ البلوغ ..... و هو ممكنٌ بالحَبَلِ أو الإِحْبَالِ أو سِنِّ البلوغِ أو رُؤيةِ الدَّم أو المَنيِّ».

يعنى څوک چې پنځلس کاله پوره کړي اګر اثار د بلوغ ورباندې شکاره نشي بیا هم بالغ ګڼل کیږي ځکه په همدغه عمر کې غالبا علامې د بلوغ شکاره کیږی نو لکه څنګه چې دبلوغ په نشانو بالغ ګڼل کیږي همدارنګه چې عمر یې نهایې حد دبلوغ ته ورسیږي بالغ ګڼل کیږي .

په( حاشية الطحطاوي على مراقى الفلاح ١/ ٩٦، طبع دار الكتب العلمية) کې راغلي:

« قوله: ( و لِمَنْ بلَغ بالسِّنِّ) احترز به عَنْ بُلوغِ الصَّبِيِّ بالاحتلام والإحبالِ والإنزالِ، و عَنْ بُلوغِ الصَّبِيَّةِ بالاحتلام والحَيضِ والحَبَلِ، فإنَّه لا بُدَّ مِنَ الغُسل فيها. قوله: ( و هو خمسَ عشرةَ سنةً على المُفتى به)».

په( مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر ٤/ ٦١، طبع دار الكتب العلمية) کې داسې راغلي:

« و عندهما[ أي: الصَّاحبَيْن] والأئمةِ الثَّلاثةِ إذا تَمَّ خمسُ عشرةَ سنةً فيهما، أي: في الغلام والجارية، و هو روايةٌ عن الإمام، و به يُفتى».

همدا راز په( الفتاوى الهندية ٥/ ٦١، طبع دار الفكر) کې راغلي:

« بُلُوغُ الْغُلَامِ بالاحْتلَام أو الإِحْبَالِ أو الإِنْزَالِ، وَالْجَارِيَةُ بالاحْتلَام أو الْحَيْضِ أو الْحَبَلِ، كَذَا في الْمُخْتَارِ. وَالسِّنُّ الذي يُحْكَمُ ببُلُوغِ الْغُلَامِ وَالْجَارِيَةِ إذَا انْتَهَيَا إلَيْه خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً عنْدَ أبي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالَى، و هو رِوَايَةٌ عن أبي حَنيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى، وَ عَلَيْه الْفَتْوَى». يعنى د هلک بلوغ په احتلام ، احبال او انزال سره ده ، د نجلى بلوغ په احتلام ، حیض او حبل سره ده او هغه عمر چې ورباندې حکم د بلوغ راځي پنځلس کاله ده په نزد د صاحبینو رحمهم الله

د رمضان روژې اړوند بېلابېل مسائل:

أ- که چیرې حملداره ښځه وینه ووینې، دا د حیض وینه نه، بلکې د استحاضې وینه ده، چې د روژې د نیولو مانع نه کیږي.

په( الدر المختار ١/ ٢٠٩) کې راغلي:

« وَ مَا تَرَاه الصَّغِيرةُ دُونَ التِّسعِ .....وَ حَامِلٌ، وَ لَو قَبْلَ خُرُوجِ أَكْثَرِ الْوَلَدِ اسْتِحَاضَةٌ».يعنى د نهو کالو نه کم عمره نجلى او حملداره ښځه چې وینه ورباندې راشي ولو که اکثره برخه د ولادت کیدونکې کوچنى خارج له بدنه هم وي نو دا وینه د حیض نده بلکه استحاضه ده

همدا راز په یاد کتاب( ١/ ٢٠٩) کې راغلي:

« وَ دَمُ استحَاضَةٍ، حُكْمُه كَرُعَافٍ دَائِمٍ، وَقْتًا كَامِلًا لَا يَمْنَعُ صَوْمًا وَ صَلَاةً» ژباړه: د استحاضی وینه چې یو کامل وخت ونیسي مانع د روژې او لمانځه نه ګرځي لکه د پوزې دائمی وینې په شان .

ب- د پېچکارۍ کارول، که هغه د رګ وي یا د غوښې، روژه نه ماتوي؛ ځکه په پېچکارۍ سره دوا د جسم د مساماتو له لارې بدن ته ننوځي، نه د منافذو( طبیعي لارو) له لارې او څه چې د بدن باطن ته د مسامونو له لارې داخل شي، مُفسد د روژې نه ګڼل کیږي.

لاندې عبارتونو کې، د دې اصل په هکله صراحت شوی:

په( الفتاوى الهندية ١/ ٢٠٣) کې راغلي:

« و ما يَدْخُلُ من مَسَامِّ الْبَدَنِ مِنَ الدُّهْنِ لَا يُفْطِرُ، هَكَذَا في شَرْحِ الْمَجْمَعِ».يعنى کوم څه چې د مساماتو دلارې بدن ته داخلیږي روژه ورباندې نه ماتیږي .

په( رد المحتار ٢/ ١٠٦) کې راغلي:

« والمُفطِر إنما هو الدَّاخل من المنافذ؛ للاتِّفاق على أنَّ مَنْ اغتَسل في ماءٍ، فوَجَد بَرْدَهُ في باطنه، لا يُفطِر».

ج- د روژې حالت کې د عطر ، دوا وغیره بویَول، روژه نه فاسدوي؛ ځکه دا یوازې بویَول دي او ورسره د دوا ذرې (وړې برخې) بدن ته نه ننوځي.

په( رد المحتار ٢/ ١٠٥) کې راغلي:

« لَا يُكرَه لِلصَّـائِم شَـمُّ رَائِحَة الْمِسْك وَالْوَرد وَنَحْوِه مِمَّا لَا يَكُونُ جَوْهَرًا مُتَّصِلًا كَالدُّخَان».یعنی روژتي ته د مسکو ،ګلابو او همداسي نور و بويول مکروه ندې .

د- د مېړه او ښځې ترمنځ لوبې، چې ورسره (له کوروالي نه) په امن کې وي، روژه نه ماتوي.

په( الفتاوى الهندية ۱/ ۲۰۴) کې راغلي:

« و إذا نَظَرَ إلَى امْرَأَةٍ بِشَهْوَةٍ في وَجْهِهَا أو فَرْجِهَا ... لَا يُفْطِرُ إذَا أَنْزَلَ».

علامه ابن عابدين( رد المحتار ۲/ ۱۰۳) وايي:

« أَمَّا الْإِنْزَالُ بِمَسٍّ أَوْ تَقْبِيلِ بَهِيمَةٍ، فَإِنَّهُ لَمْ يُوجَدْ فِيهِ شَيْءٌ مِنْ مَعْنَى الْجِمَاعِ، فَصَارَ كَالْإِنْزَالِ بِنَظَرٍ أَوْ تَفَكُّرٍ، فَلِذَا لَمْ يَفْسُدْ الصَّوْمُ إجْمَاعًا».

هـ- د روژې نه نيولو يا ماتولو په هکله، د ديندراه او تجربکاره ډاکټر مشوره، اړينه ده.

علامه ابن عابدين( رد المحتار ۲/ ۲۲٦) وايي:

« قَوْلُهُ: (طَبِيب حَاذِق مُسلِم مَسْتُور) وَ قِيلَ: عَدَالَتُهُ شَـرطٌ، وَ جَزَمَ بِه الزَّيْلَعِيُّ، وَ ظَاهِرُ مَا فِي( الْبَحْرِ) وَ( النَّهْرِ) ضَـعْفُهُ. قُلْت: وَ إِذَا أَخَذَ بِقَوْلِ طَبِيبٍ لَيْسَ فِيهِ هَذِه الشُّـرُوطُ وَ أَفْطَرَ، فَـالظَّـاهِرُ لُزُومُ الْكَفَّـارَةِ، كَمَا لَوْ أَفْطَرَ بِدُونِ أَمَارَةٍ وَلَا تَجْرِبَةٍ، لِعَدَمِ غَلَبَةِ الظَّنِّ، وَالنَّاسُ عَنْهُ غَافِلُونَ». يعنی د روژې نه نيولو يا ماتولو په هکله، د ديندراه او تجربکاره ډاکټر مشوره، او اجازه اړينه ده نو که د داسې ډاکټر په مشوره يې روژه ماته کړي وي چي ديندراه او تجربکاره نه نو کفاره ورباندې لازميږي.

و- د رمضان مياشتې روژه کې سګرېټ څکول، کفاره لازموي.په فتاوی فريديه ج/۴ص/۱۵٦ کې داسی ليکلي (عادی آدمی پر روزه میں سگریٹ اور چلم پینے سے قضا اور کفارہ دونوں لازم ہے ـفي الشاميه ج/۲ ص/۱۳۴ ( قَوْلُهُ : أَنَّهُ لَوْ أَدْخَلَ حَلْقَهُ الدُّخَانَ ) أَيْ بِأَيِّ صُورَةٍ كَانَ الْإِدْخَالُ ، حَتَّى لَوْ تَبَخَّرَ بِبَخُورٍ وَآوَاهُ إلَى نَفْسِهِ وَاشْتَمَّهُ ذَاكِرًا لِصَوْمِهِ أَفْطَرَ لِإِمْكَانِ التَّحَرُّزِ عَنْهُ وَهَذَا مِمَّا يَغْفُلُ عَنْهُ كَثِيرٌ مِنْ النَّاسِ ، وَلَا يُتَوَهَّمُ أَنَّهُ كَشَمِّ الْوَرْدِ وَمَائِهِ وَالْمِسْكِ لِوُضُوحِ الْفَرْقِ بَيْنَ هَوَاءٍ تَطَيَّبَ بِرِيحِ الْمِسْكِ وَشَبَهِهِ وَبَيْنَ جَوْهَرِ دُخَانٍ وَصَلَ إلَى جَوْفِهِ بِفِعْلِهِ إمْدَادٌ وَبِهِ عُلِمَ حُكْمُ شُرْبِ الدُّخَانِ وَنَظَمَهُ الشُّرُنْبُلَالِيُّ فِي شَرْحِهِ عَلَى الْوَهْبَانِيَّةِ بِقَوْلِهِ : وَيُمْنَعُ مِنْ بَيْعِ الدُّخَانِ وَشُرْبِهِ وَشَارِبُهُ فِي الصَّوْمِ لَا شَكَّ يُفْطِرُ وَيَلْزَمُهُ التَّكْفِيرُ لَوْ ظَنَّ نَافِعًا كَذَا دَافِعًا شَهَوَاتِ بَطْنٍ فَقَرِّرُوا ▪

ز- د پېشلمي پای په سپېده چاود( صبح صادق) سره تحقق مومي.

په( حاشية الطهطاوي ۱/ ۴۱۹) کې راغلي:

« قوله: ( النَّهار ضِدّ الَّليلِ) قَال فِي الشَّـرحِ: النَّهارُ عِبارَةٌ عَنْ زَمَانٍ مُمْتَدٍّ مِنْ طُلوعِ الْفَجْرِ الصَّادِقِ إلى غُرُوبِ الشَّمْسِ، وَ هُو قَولُ أَصْحَابِ الْفِقهِ وَالُّلغَة».

همدا راز په( رد المحتار ۱/ ۴۱۹) کې راغلي:

« قَوْلُهُ: ( وَ هُوَ الْيَوْمُ) أَيْ: الْيَوْمُ الشَّرْعِيُّ مِنْ طُلُوعِ الْفَجْرِ إلَى الْغُرُوبِ. وَ هَلْ الْمُرَادُ: أَوَّلُ زَمَانِ الطُّلُوعِ أَوْ انْتِشَارُ الضَّوْءِ؟ فِيهِ خِلَافٌ كَالْخِلَافِ فِي الصَّلَاةِ، وَالْأَوَّلُ أَحْوَطُ وَالثَّانِي أَوْسَعُ». يعنی شرعي ورځ له ختلو د فجر صادق څخه بيا تر لمر لويدلو پوري ده .

ح- د رمضـان مياشـتې روژه کې، د سخت درد او تکليف په صـورت کې، د روژتي لپاره د غاښ ايسـتل روا دي او له دې پرته ايسـتل يې مکروه دي. خو روژتي دې هڅه وکړي، څو وينه يې حلق ته ونه رسيږي، که ورسيږي روژه يې فاسديږي.

او په احسن الفتاوی کې داسی ليکلی روژه مین دانت نکلوانا بوقت اشد ضرورت جائزهی اور بلاضرورت مکروه هی أَوْ خَرَجَ الدَّمُ مِنْ بَيْنِ أَسْنَانِهِ وَدَخَلَ حَلْقَهُ ) يَعْنِي وَلَمْ يَصِلْ إلَى جَوْفِهِ أَمَّا إذَا وَصَلَ فَإِنْ غَلَبَ الدَّمُ أَوْ تَسَاوَيَا فَسَدَ وَإِلَّا لَا ، إلَّا إذَا وَجَدَ طَعْمَهُ بَزَّازِيَّةٌ وَاسْتَحْسَنَهُ الْمُصَنِّفُ وَهُوَ مَا عَلَيْهِ الْأَكْثَرُ( رد المحتار ۲/ ۴۳٦)

يعني که له غاښو څخه وينه بهر شی او په خوله کې وي يا حلق ته ورسيږي خو داخل ته ولاړه نشی نو روژه نه ماتوي خو که وينه داخل ته ولاړه شی بيا روژه ماتوي.